اې الله! زه پر تا د قبر له عذاب څخه پناه نيسم او د اور له عذاب څخه، او پناه نيسم پر تا د ژوند او مرګ او مسحه شوي دجال له فتنې څخه

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايلي: رسول الله صلى الله عليه وسلم به دعا کوله او وېيل به يې: « اې الله! زه پر تا د قبر له عذاب څخه پناه نيسم او د اور له عذاب څخه، او پناه نيسم پر تا د ژوند او مرګ او مسحه شوي دجال له فتنې څخه». او د مسلم په لفظ کې راځي «کله چې ستاسو څخه يو له وروستي تشهد څخه فارغ شو، نو له څلورو شيانو څخه دې الله ته پناه يوسي: د دوزخ له عذابه، د قبر له عذابه، د ژوند او مرګ له فتنې او د مسحه شوي دجال له فتنې څخه».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم به په لمانځه کې د وروستي تشهد پسې او له سلام ګرځولو څخه مخکې له څلورو شيانو څخه په الله جل جلاله پناه غوښتله او مونږ ته يې امر کړی چې مونږ هم ترې پناه وغواړو، لومړی: د قبر له عذاب څخه. دويم: او د قيامت په ورځ د اور له عذاب څخه. دريم: د ژوند له فتنې څخه، يعنې د دنيا له حرامو خواهشاتو او ګمراه کوونکو شکونو څخه او د مرګ له فتنې څخه، يعنې د ځنکدن پر مهال، چې هغه له اسلام او سنت څخه اوړبدل دي، او د قبر له فتنې (امتحان) څخه لکه د دوو پرښتو پوښتنه. څلورم: د دجال فتنه چې په اخر وخت کې به راخرګند شي، او الله تعالى به پرې خپل بندګان وازمايي؛ له هغه څخه يې د لوې فتنې او ګمراهۍ له امله په ځانګړي توګه يادونه وکړه.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3103